# اسلامي امت ته د رېښتینې خپلواکۍ مفهوم




غربي ښکېلاک لومړی اسلامي خاوره (دارالاسلام) اشغال کړه، خو تر هغه وخته یې خپل پوځونه ورځخه و نه ایستل، ترکومه یې چې د مسلمانانو خاوره (دارالاسلام) په وړو (ملي) دولتونو و نه وېشله او ورپسې یې خپل روزل شوي مزدور چارواکي وربانديې حاکم کړل، څو په هماغه ټوټه شوو خاورو واکمني وکړي او د هغوی د شتمنیو، زېرمو او پانګو له لوټ تالان، د هغوی د ښکېلاکي پروګرامونو د پلي کېدو لپاره له کفارو سره مرسته وکړي، آن تر هغه چې له ښکېلاکګرو کفارو سره په یو سنګر کې د اسلام، مسلمانانو او حکومتولۍ ته د اسلام د بیا راوستلو له هڅو سره جنګ او مبارزه وکړي.

نو د دښمن د ماتې په مناسبت د جشن نیول هغه وخت سم دي، چې دښمن له خپلو ټولو پوځیانو، فکر او فرهنګ سره خپل هغه ځای ته په تګ مجبور شي، له کومه ځایه چې راغلی وي. خو اوس د خپلواکۍ په مناسبت جشن نیول والله، بالله ثم تالله د مسلمانانو په خاورو کې د دښمن د فرهنګ د پیاوړتیا لپاره یوه پلمه، د عامه افکارو غولونه او تش دروغ دي. ځکه د ښکېلاکګرو او اشغالګرو تر حاکمیت، دولت، بیرغ او قانون لاندې د خپلواکۍ د جشن نیول یوازې د کفارو د ګټو د خوندیتوب او د امت د وېش او د هغوی د ناروا مفکورو لپاره د خدمت په موخه دي او بس. نو په دې خاوره کې د دروغجنې خپلواکۍ لپاره د جشن نیول له الله سبحانه وتعالی، رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه له امت سره له خیانت پرته بل څه نه دي.

اسلامي امت باید د خپلواکۍ واقعي مفهوم د قادسیې په جګړه کې رستم ته د جلیل القدر صحابي ربعي بن عامر رضی الله عنه له ځواب ځخه زده کړي:

((موږ الله سبحانه وتعالی ددې لپاره رالېږلي یو، څو هغه کسان چې الله سبحانه وتعالی ورته وغواړي؛ هغوی د مخلوق له بندګۍ ځخه د مخلوق د رب بندګۍ ته او د دنیا له تنګۍ ځخه د هغه پراختیا او د دینونو له ظلم ځخه د اسلام عدالت ته راهنمایي کړو. موږ یې له داسې دین

سره رالېږلي يو، څو د هغه مخلوق د هغه دين ته دعوت کړو، نو څوک چې دا ومني، له هغوی څخه يې منو او له هغوی څخه بېرته ګرځو او هغه څوک چې هغه ونه مني، د تل لپاره به له هغوی سره جګړه کوو، څو د الله سبحانه وتعالی وعده ترلاسه کړو)). نو دا ډول خپلواکي يوازې د اسلامي دولت د (نبوت پر منهج خلافت) د بيا تاسيس له لارې امکان لري او بس.

بل پلو له لاندې شرايطو پرته د اسلامي خاورو لپاره حقيقي خپلواکي اصلاً ناممکنه ده:

۱. د کفري شرق او غرب هر ډول نفوذ بايد له منځه يوړل شي. هغه که نظامي، سياسي، اقتصادي او فرهنګي نفوذ وي او يا هر هغه څه چې په اسلامي نړۍ کې د غرب د واکمنۍ او حاکميت لامل کيږي، د ټولو بايد له بېخه ريښې وايستل شي.

۲. شته سياسي منځی (سياستوال) بايد له واک او قدرت څخه لرې کړل شي. يعنې هغه سياستوال چې غرب د خپل کفري فکر او ثقافت په واسطه په اسلامي خاورو کې د مبدئي (ايډيولوژيکو) سېکولرانو په توګه روزلي دي.

۳. د راشده خلافت د دولت له لارې يوازې د اسلامي شريعت پر بنسټ بايد حکومت وشي. ځکه ددې خاورو ډېری خلک مسلمانان دي او په هغوی واجب دي څو يوازې اسلامي شريعت حاکم او د ژوند په ټولو برخو کې يې پلی کړي او دا له خلافت دولت پرته اصلاً امکان نه لري.

۴. هر هغه څه بايد له منځه يووړل شي چې په اسلامي خاورو کې د ښکېلاکګرو او اشغالګرو له مفکورو څخه په ميراث پاتې دي. لکه د مسلمانانو د خاورو ترمنځ د ملي پولو وېش، د ملي ګټو مفکوره، ملي سرحدونه، ملي بيرغ او ... ځکه هغه خاوره چې لومړی خپله حقيقي خپلواکي اعلانوي بايد د وېشل شوو اسلامي خاورو د يو کولو لپاره هر اړخيزې هڅې وکړي، څو هغوی ډېر ژر له خپلواک اسلامي دولت (راشده خلافت) سره يو ځای کړي او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د لواء ((سپين بيرغ له تور رنګه سپېڅلي کليمې سره)) او رايه ((تور بيرغ له سپين رنګه سپېڅلې کليمې سره)) تر سيوري لاندې ټول مسلمانان رهبري کړي او بايد د دولت يوازنی بنسټ اسلامي عقيده وي.

۵. د خلافت دولت له تاسيس سره په يو وخت کې بايد نړيوالو ته د اسلام د مبداء (ايډيولوژۍ) او دين د رسولو او خپرولو لپاره تياری ونيول شي او د نړيوال سياست په ډګر کې کار او هڅې پيل کړي. ځکه د دعوت او جهاد له لارې نړيوالو ته د اسلام لېږد او خپرول د ټول امت فريضه ده او د خلافت دولت لپاره د نړيوالو اړيکو اساس دی. ځکه که کفار د خلافت دولت د پوځ له فاتحانه بريدونو او ځاني دفاع څخه فرصت پيدا کړي، يو ځل بيا به د خلافت دولت پر خاوره راودانګي او د تېر په څېر به د هغې پر تجزيه پيل وکړي او په پای که به خلافت دولت له منځه يوسي.

**سيف الله مستنير**

**د حزب التحرير ولايه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رييس**